پوهاند محمد بشیر دودیال ۲۰۱۹/۰۶/۱۷

# افغانی ټولنه، هنر، هنرمن او هنر ته اړتیا

ستر خوشحال د انساني ژوند د ښېته ډېرو نورو اړخونو تر څنګ؛ د هنر په هکله هم غړیدلی، هنر یې ستایلی، دغه فیلسوف یوه عجیبه خبره کړی او ویلی یې وو:

"*که ماته هنر او طالع دواړه کېښودل شي؛ زه خوشحال به هنر پکې خوښ کړم .*"

نو هنر څه د ی؟

هنر (Art) د انساني فعالیتونو هغي مجموعي او آثارو ته ویل کیږي چې د انسانانو پر عواطفو او احساساتو باندې د اغېزې کولو او د ځانګړې معنا او مفهوم د لېږدولو لپاره ترسره کیږي. هنر د هنرمن شعوري کار او آګاهانه فعالیت دی، خو ځیني وخت لکه د کار په شان یواځې د مادي مقصد او مالی ګټي په موخه نه وي، بلکې تر دې ټولو اوچت معنوی مقاصد لري. هنر ښکلا پنځول، ښکلاخوښول، ښکلا ستایل، ښکلا پالل او ښکلا لاښکلی کول دي. په دې توګه هنر د طبیعت له زیږنده ښکارندو(پدیدو) څخه توپیر لري او د بشر د هستوونکی خلاقانه ځواک څخه رامنځته شوی ابداعات په هنر کې شمېرل کیږي. خو بیا هم په ځانګړې توګه هغو فعالیتونو ته ویل کیږي چې د هنر بېلابېلي څانګې جوړوي لکه انځورګري، پر توږل، ګرافیکي طرحې، ودانی جوړول، موسیقي، شعر، تیاتر، سینما او نور. هره هستونه هنر نه دی، نه هم هر ایجادی او تخلیقی اثر هنر دی، بلکې هنر او هنری اثر تر ټولو سخت او ستونزمن کار او د ډېرو معیارونو لرونکی دی. پخوا داسي هڅې رواني وې چې هنر په دوو برخو وویشي:

یو؛ ښکلي هنرونه او بل یې ګټور هنرونه.

ښکلي هنرونه د هیڅ موخي او مقصد په چوپړ کی نه دي او پایله یې ارزښت هم لري لکه انځورګري، خو ګټور یا ګټه لرونکی هنر له هنري ارزښت پرته یوه بله موخه هم لري لکه سینګار شوي لوښي. نن ورځ دغه وېشنه له منځه تللی ده. هنر بېلابېل ډولونه لري لکه مخکي مو چې د هنر په تعریف کې ولوستل، هنر په عمل باندې د نظري معرفت تطبیق کول دي، نو د دغه تعریف لابشپړتیا لپاره باید د هنر اهداف هم په دې تعریف ورزیات کړو، نو وبه وایو چې:

هنر په عامه توګه د ښکلي، ګټور او یا هم ښکلي او ګټور محصول د تولید لپاره پر عمل باندې د علم تطبیق کول دي.

د ګټي لپاره فعالیت یواځې د انسان هغه کار ته ویل کیږي چې د یو چا شغل او پیشه وي او موخه ورڅخه یواځې ګټه



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

کول وي، خو که له دې ډول کار څخه تېر شو، نو د هنر ځانګړې او محدودې معنا ته ورسېږو چې موخه ورڅخه د ښکلا مجسم کول وي، چې کېدای شي ګټه ولري او یا یې هم ونلري.

هغه هنرونه چې هم ښکلا او هم ګټه ولري او د هنریت تر څنګ د یو شمېر اړتیاوو د پوره کولو لپاره هم وي نو د هغو محصول تکرار کېدونکی او په هماغه یوه بڼه وي چې دې ته هنري صنعت یا صنعتي هنر وایي، خو هغه چې موخه یې یواځې او یواځې د انسان د ښکلا خوښوني د تندې ماتول وي، نو دې ته ښکلي هنرونه وایي. ښکلي هنرونه د دې له مخې چې آیا د هغو اغېزه د انسان په ذهن باندې د کوم حس له لارې واردیږي، یا په بله وینا آیا دا چې د انسان د ښکلا خوښوني احساس په کومه طریقه پوره کوي، په بېلابېلو ډولونو وېشل کیږي لکه: د پلاستیک هنر، فونتیک، بصري هنر، سمعي هنر او داسې نور. پلاستیک یا بصري هنرونه هغه هنرونه دي چې د انسان په ذهن باندې د هنر اغېزې د باصره حس یا سترګو له لارې واردیږي، نو ځکه له مادي او ثابتو عناصرو څخه جوړ شوي دي چې په لاندې توګه دي:

۱. د معماري هنر یا د ښکلو ودانیو د جوړولو هنر چې د ودانۍ جوړولو یوه څانګه بلل کیږي او د ودانیو د جوړولو، دیکوراسیون، ښکلی کول او سینګار هنر دی.

۲. د حجاري هنر یا له جامدو ماودو څخه د ښکلو شکلونو د جوړولو هنر. دې ته ځکه د حجاري هنر وایي چې زیاتره وختونه دغه ډول شکلونه له تیږې څخه جوړېدل نو ځکه ورته پږ توږل هم وایي.

۳. د انځورګري یا د شیانو د تجسم هنر او د فکر او خیال مجسم کول د خط، رنګ او کرښو په واسطه انځورګري بلل کیږي، خو رنګ پکښې ونه کارول شي او یواځې کرښې وي، نو بیا د رسامۍ پرځای نقاشي ورته ویل کیږي. ښکلی لیک هم د نقاشي یوه څانګه ده.

سمعي یا فونتیک هنرونه هغه دي چې اغېزه یې د غوږ او اورېدو له لارې په ذهن واردیږي نو ځکه یې عناصر مادي او ثابت نه دي، چې په لاندې برخو وېشل کیږي:

۱. موسیقي یا د غږونو په واسطه د ښکلا رامنځته کولو هنر.

۲. ادبیات یا د الفاظو او کلماتو په واسطه د ښکلا رامنځته کول چې دا هم دوه ډولونه لري:

الف) که چېرې د الفاظو په جوړښت د هغو وزن و آهنګ په پام کې ونیول شي، شعر ورته ویل کیږي.

ب) که چېرې الفاظ بې له وزن څخه یو بل سره ترکیب شي نثر ورته ویل کیږي.

د ادبیاتو په هکله ممکن دا سوال پیدا شي چې که چېرې مونږ شعر یا نثر پر کاغذ باندې لیکو او په سترګو یې لولو، نو ولې د فونتیک په هنر کې شمارل کیږي؟

ځواب دا دی چې په حقیقت کې شعر او نثر دواړه د اورېدو لپاره دی او هغه فعالیت چې د کلماتو په غوره کولو او د موزونو او ښکلو جملاتو په جوړولو کې په کار ځي، د دې لپاره دی چې غږونو باندې ښې ولګیږي. په دې دلیل چې مونږ شعر یا نثر په سترګو سره لولو، نو هغه کلمات او جملات چې زمونږ تر سترګو کیږي، په ژبه یې راولو، نو هغه کسان چې هغه اوري ورڅخه خوند اخلي او هم مونږ ورځني خوند اخلو.

هنر له بشر ي ژوند سره تل مل و او وي به. بې هنره ژوند نشی کېدای. هیڅ ایدیالوژی، دین، مذهب او نظام هنر ندی رد کړی، صرف شاید د هنر ځینی شکلونه د ځینو له خوا د منلوړ نه وي. که له تاریخي پلوه هنر ته وکتل شي، نو د لومړني انسان د هنر په هکله به بې شمېره پوښتنو سره مخامخ شو. د هغې نړۍ ګونګتیا او نه پېژندل چې ابتدایي

انسان هغې کې ژوند کاو، پخپله لویه ستونزه ده چې د دغه ډول څېړنو په لاره کې شته. د تاریخ په اوږدو کې د یوه واقعیت په توګه هنر او د هغه په هکله نظریات له یو نسل څخه بل ته ولېږدول شول چې د حقایقو د پېژندنې د یوې وسیلې په توګه ورڅخه کار اخیستلای شو. سره له دې چې د هنر مفهوم زیاتره د یوه هنري اثر د ایجادولو لپاره په کار ځي، خو د دغې اصطلاح یعنې د هنر د کلمې د تاریخي نظریاتو راجوړېدل او رامنځته کېدل د بشریت د ژوند له لومړیو ورځو څخه راپیل کیږي. په دې برخه کې ډېرو پوهانو نظرات ورکړي دي، خو بیا هم موضوع دومره پېچلې ده چې هره نوې څېړنه یوه بله نوې نظریه ځانته سره لري او دې برخه کې نورې نوې پوښتنې را پیدا کیږي. د بېلګې په توګه:

آیا هنر له وخت څخه راپیدا شو؟

لومړی ځل چا هنر باندې لاس پورې کړ؟

د لومړني انسان په ذهن کې د هنر د ایجادولو انګېزه څه وه؟ او داسې نورې پوښتنې.

لرغونپوهانو یو شمېر سمڅې موندلې دي او د هغو له لوګیو ډکو تیږو او ایرو په لیدلو سره پوه شول چې لومړنیو انسانانو اور پېژاند او هغه څخه یې کار اخیست او داسې سمڅې یې هم وموندلې چې د هغه له طبیعي مصئونیت څخه یې ګټه اخیسته او د دغو سمڅو پرمخ هغه هډوکي او نور شیان موندل شوي دي چې هغه وخت انسانانو استعمالول. د بېلګې په توګه د فرانسې په جنوب کې د لاسکو او د اسپانیا په شمال کې د التامیر په یو شمېر سمڅو کې داسې نقاشۍ او انځورونه ښکاري چې زرګونه کاله وړاندې کښل شویدي. معمولاً په دغو سمڅو کې د ځارویو انځورونه لیدل کیږي. له دې کبله چې دغه ډول سمڅې په هر ځای کې د انسان په واک کې نه وې، نو په نورو ځایو کې به د غټو تیږو سیورې او اړخونو کې ژوند کاو او د لویو تیږو خواته به یې ځانونه پناه کول. هغه وګړي چې په ځنګلونو کې اوسېدل، د باران پرمهال به د غټو ونو د ډډ خواته یا د غټو ونو د ډډ سیورو کې پټېدل یا به یې د ونو ښاخونو کې ځالې جوړولې. یو شمېر پوهان وایي چې د بېلابېلو هنرونو ریښه سحر او جادو ده چې ځانګړو قالبونو او لارو چارو باندې ښودل کیږي. کاسمیو په دې باوري دی چې د لرغوني وختونو د تیرې د دورې په هنر کې د ځارویو د انځورونو څخه واقع بیني ښکاري او همدا د انساني فرهنګ لومړنیو شېبو پورې اړه لري چې د هنر پېژندونکو د حیرانتیا او شاباسې وړ ګرځېدلی او دا حقیقت ورڅخه ښکاري چې لومړني انسانان د ځارویو د څېرو بېلابېل ډولونه پېژندل او د هغو بېلابېلو بڼو ته ځیر و او همدا مشاهدات د لومړنیو انسانانو د ذهن عرفاني والی ردوي.

انسان د طبیعت د عناصرو په بدلولو سره، هغه خپل واک لاندې راولي، دلته د هنر موخه د طبیعي عناصرو د بڼې بدلول دی دا ځکه چې انسان له هماغه پیل څخه د طبیعت ترلاسه کول او د طبیعي پېښو په خپل واک کې د راوستلو په لټه کې و او غوښتل یې چې د هنر له لارې د شیانو بڼې ته بدلون ورکړي. دغې موخې ته د رسېدو په خاطر انسان دا توانایي ومونده چې د هنر ډګر ته ګام کېږدي او له ځان څخه هنر څرګند کړي. داسې دلایل شته چې د هغو له مخې انسان مجبور شو چې د هنر ډګر ته ورشي. داسې ښکاري چې لاندنیو دلایلو په انسان کې د هنري آثارو د رامنځته کولو لپاره انګېزه ورکړې:

لومړی) د ژوندي پاتې کېدو لپاره مبارزه.

دویم ) پر طبیعت باندې غلبه یا د ژوند د اړتیاوو د پوره کولو لپاره د طبیعت رام کول چې ځینې وختونه د هنر د تاریخ د مطالعې په ترڅ کې د جادویي عواملو په توګه تر بحث لاندې نیول شوي دي.

دريم) نفساني او د انسان د خودخواهي غريزه چې دغه غريزه د انسان خلاقانه قدرت استعداد او توانايي سره اړيکه لري او د بشريت د کار او فعاليت لار يې هواره کړه.

څلورم) انسان تل د هنري ايجاداتو د رامنځته کولو په لټه کې و، تر څو د خپلو ټولنيزو اړتياوو د پوره کولو لپاره يو ګام اوچت کړي.

له تاريخ څخه د مخکې دورې هنر د انسان له ربنتياني ژوند څخه سرچينه لرله او د هغو نيمګړتياوو د پوره کولو يوه وسيله وه چې انسان خپل ډله ييز ژوند کې ورسره مخامخ و. د دغې دورې د هنر ايجادول د انسان د فعاليت يوه برخه او د دوی د لومړني ژوند يوه پايله وه چې له طبيعي ناوړه پيښو سره په مقابله کې رامنځته شو او لکه د نورو اسبابونو په شان پر طبيعت باندې د غلبې يوه وسيله وه او حياتي ارزښت يې درلود. لومړنی انسان هنر ته د صرف د يوې بوختيا او ځان غولونې په سترګه نه کتل. بلکې د خپلو هيلو د پوره کولو لپاره يې يوه وسيله وه. د ښکارويو انځورول، په هغو باندې د دوی د واک موندلو يوه وسيله وه. د لومړني انسان په فکر د يوه شي انځورول په هغه باندې د ده واکمن کېدل ښيي. په دې توګه د (ايديا) يا خيال او واقعيت ترمنځ نژدې روابط جوړ شول. لومړني انسان مجسمه جوړول او انځور کښل په طبيعت باندې واکمن کېدل ګڼل، نو ځکه هنر د انسان همزولی دی چې تل په ټولنيز ژوند کې موجود و او اوس ځيني وخت د معيشت يوه وسيله ده.

نامتو ارواپوهانو او ټولنپيژندونکو چې د انسان روح  او ذهن مطالعه کړی دی، وايي چې هرهغه څوک چې په شعر ، طنز يا لنډه کيسه ونه پوهيږی، هنری اثر درک او تحليل نشی کړای، يو هنری اثر لکه نقاشی، ميناتوری يا بل اثر ورباندې اغيز ونه کړی، نو دغه ډول وګړی بايد ژور ټکان وخوری او په خپل انسانيت شکمن شي، هغه بايد په خپله نيمګړتيا اعتراف وکړی.

هنر پيژندونکی او هنرمن انسانان ډير لطيف احساسات او عواطف لري. هنرمندان بشردوست، سوله خوښي، عادل او نياومن، مهربان او مشفق، بې تعصبه او بی تبعضه، خيرغوښتونکی او بشرپال وي.

هنرمن هغه څوک دی چې لطيف احساسات، دښکلا پيژندني او ښکلاخوښوني ضمير او د ښکلی هنر د تخليق او ايجاد توان، ظرافت  او مهارت ولري. دوی ډير ارام، متفکر، دانرژی لرونکي، نوښتګر او پلټونکی خلک وی. کله چې موږ د حميد مومند، حافظ،خوشحال، بيدل يا مولانا اشعار لولو يا يې اورو بی اختيار دهغو تر اغيز لاندې راځو، کله چې يو څوک د مکيلانژ يا پيکاسو اثر وينی، کله چې د بتهوون سمفونی اورو او موزارت  ته غوږشو، کله چې د تاج محل ابهت ته هک پک شو، کله چې د مصر اهرام ته ګوته په غاښ دريږو، کله چې ديوې افغانی غالی انځورونو ته په حيرت سره ګورو... دا ټول د هنری اثر هغه اغيز ده چې پر هنر پيژندونکی، يعنی بشپړ انسان پريوځي.



ستونزه دا ده چي هنر پيژندنه او هنر خوښوونه او په تيره بيا دهنری اثر پنځونه روزني او ځانګړي چاپيريال ته اړتيا لري. غبی ذهن، له تاوتريخوالي ډک محيط، تعصب، نامتعادل روحي حالت او دي ته ورته محيطی او فردی ستونزي د هنر، هنرپيژندني او هنرخوښوني خنډونه او مانع دي. هنر روح ته تعالي وربښي.

له بده مرغه د افغاني ټولني يوه لويه بدمرغي همدا وه چي جګړو؛ تاو-تريخوالی، شقاوت، بغض، ناسازګاری، تعصبات دومره پراخه او ژور کړل چي هنر او هنرخوښوني ته مجال پاتي نه دی. له همدي امله اعتراف کوو چي تر فزيکی معيوبيتونو او ناروغيو ښخه مو روحی ناروغی لازياتي دي. تقريباً له هرو پنځو تنو ښخه ځلور يي روحی ناروغان دي( هغه حقيقت چي منل يي ډير ګران دي). موږ خپل ډير هنری آثار له لاسه ورکړل، دهنرمندانو د کار مخه موونيوله، استعداونه مو ووژل، هنری آثار مو لوټ اوبهر ته قاچاق کړل، هنری عاطفی او احساس ته مو سپکاوی وکړ، ... نور بس دي. د تاو- تريخوالی د له منځه وړلو، د انسانی جوهر دصيقل، دعواطفو او ترحم د غځونو، پرجګړه باندي د بري او د يوې نياومني ټولني د جوړولو لپاره، بيرته د هنری ارزښتونو ژوندي کولو او پاللو ته اړ ياستو.



د افرادو دا ابنارملتی، د ټولي ټولني ابنارملتی تعبير کيدای شی، هغه ستونزه چي لا اوس هم ورته نه ياستو ځير او بابيزه يي ګڼو. افغانان هنرمن او هنردوست خلک وو، د دوی لنډی، فوکلور او شفاهی ادب، دجوماتونو جوړې شوي مناري، دسترو تاريخی کلاوو پخڅي اوبرجونه، ښکلی خط، د دوی د ځادر خامکونه او چکن شوي دسمالونه، د پيغلو د سينګار طرز، ساندي وهل او وزلوبه، د کار پرابزارود انځورونو تورل، ښکلی اوبدل شوی لمڅي او پوزي، مری لرونکی خولی، ځونډي او پاولي، د آس په توسيری انځور شوی کرښي، د اوښانو په غاړو کي ځونډي، د اټن مستانه ډول، رباب، نښه ويشتل، دتنور او نغری په غاړو او ژيو دښيښو او غميو ايښودل، پر حتينو کندوانو دګلانو انځورکښل او زرګونه نور مثالونه د دوی د هنرخوښوني، هنريت، او هنرمندانه ذوق او شوق ښودنه کوي، هغه څه چي تر اوسه يي موږ ارزښت نه دی ځيرلی. پريږده چي دا خبره په زغرده وکم چي: ***زموږ هنر د نورو ټولنو ترهنرونو هيڅ کم نه و، خو لا بډای و.*** بويه چي خپل دغه معنوی او مادي لوی ګنج بيا را ژوندی کړو، وده ورکړو، روزنه يي پراخه او وځوو او هغه وساتو.

**** * ****

تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با اجرای "کلیک" بر عکس نویسنده در صفحۀ مقالات، به فهرست "آرشیف" شان رهنمائی شوند!

افغانی ټولنه، هنر، هنرمن او هنر ته اړتيا
dodiaal_mb_۱۱۹_afghani_honar_ta_altia.pdf